مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۹** (از ۱۷ الی ۲۴ اسد ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

**ورو‌ستۍ پېښې او د سولې په پروسه يې اغېزې**

- د طالبانو خپلمنځي اختلافات ........ ۴
- په کابل کې مرگوني چاودني ........ ۵
- د ملي وحدت حکومت بدلېدونکی سیاست ........ ٦
- د سولې پروسې تت راتلونکی ........ ۷

**آیا تنش در روابط میان کابل-اسلام‌آباد جدی است؟**

- بازگشت به سیاست‌های کرزی ........ ۹
- سیاست "اعتماد به پاکستان" ........ ۹
- مذاکرات صلح و روابط با پاکستان ........ ۱۰
- نتیجه گیری ........ ۱۱

## مقدمه

په تېره میاشت کې یو شمېر مهمې پېښې او بدلونونه د دې لامل شول، چې د پاکستان په تړاو د افغان حکومت پر پالیسیو او تګلارو اغېز وکړي. د سولې د روان بهیر د ناکامۍ شونتیا، په پاکستان کې د طالبانو د نوي مشر ټاکل کېدو او ورپسې په کابل کې درنو چاودنو ولسمشر اشرف غني په لومړي ځل د پاکستان په اړه توندو څرګندونو ته اړ ایست او سملاسي یې یو جګپوړی پلاوی اسلام‌آباد ته واستاوه.

وروستیو پېښو نه یوازې دا چې د پاکستان په تړاو د افغان حکومت پر سیاست اغېز وکړ، بلکې د سولې د هلو ځلو پر وړاندې یې هم بېلابېلې اندېښنې وزیږولې؛ ځکه له پاکستان سره د اړیکو ښه کول او پاکستان ته امتیازات ورکول د سولې بهیر د بریا په موخه وو. له وروستیو بدلونونو وروسته د افغان چارواکو د توندو څرګندونو په غبرګون کې پاکستاني چارواکو سوړ غبرګون وښود او دا څرګندونې یې جدي ونه نیولې، چې د پاکستاني لوري دا ډول غبرګون بېلابېل تعبیرونه درلودل. خو آیا دا پرله پسې بدلونونه به پاکستان په تړاو د افغان حکومت سیاست بدل کړي؟ او دا بدلونونه د سولې روان بهیر په کوم لوري بیایي؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، په همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# وروستۍ پېښې او د سولې په پروسه يې اغېزې



په کابل کې له پرله پسې خونړيو چاودنو وروسته، ولسمشر غني په يوه مطبوعاتي کنفرانس کې د تېرو لسو مياشتو پرخلاف په لومړي ځل د پاکستان په تړاو خورا تونده ژبه وکاروله. ده وويل، د پاکستان په قلمرو کې زموږ پرخلاف د جنګ اعلان کېږي، دا په حقيقت کې له يوه ګاونډي ملت سره څرګنده دښمني ده.

د اشرف غني له دغه مطبوعاتي کنفرانس څخه يوازې دوې ورځې وړاندې په کابل کې پرله پسې درنې چاودنې وشوې او يوناما د خپلو څېړنو له مخې، چې له ۲۰۰۹ کال راهيسې دا ډول پېښې ثبتوي، د ملکي کسانو لپاره تر ټولو مرګونې ورځ وبلله.

د پاکستان پرخلاف د اشرف غني له تاوده غبرګون او په کابل کې له پرله پسې چاودنو مخکې، په اسلام آباد کې د سولې پيل شوې خبرې د ملا محمد عمر د مړينې د افشا کېدو له کبله وځنډېدې. د دې ترڅنګ د طالبانو په ليکو کې هم د اختلافاتو راپورونه خپاره شول. اوس پوښتنه دا ده، چې دا پرله پسې بدلونونه او پېښې د سولې او روغې جوړې بهير کوم لوري ته وړي؟

## د طالبانو خپلمنځي اختلافات

کله چې د طالبانو رژیم راوپرځول شو او څو کاله وروسته يې د ناټو ځواکونو پر ضد وسلهواله مبارزه پیل کړه، له هماغه مهاله هم کله ناکله ځینې طالب چارواکي د دوی له لیکو رابېل شوي دي. د بېلګې په ډول، معتصم اغا جان په ۲۰۱۰ کال د ځینو اختلافاتو له کبله د طالبانو له لیکو رابېل شو او د سیمې له هېوادونو څخه يې د بین‌الافغاني روغې جوړې د بهیر لپاره هلې ځلې کولې. دا چې هغه مهال د طالبانو په لیکو کې د خپلمنځي اختلافاتو له کبله د طالبانو تحریک ته کومه ضربه ونه رسېده، لامل يې د ملا محمد عمر شتون او مشري وه.

د ملا محمد عمر د مړینې له افشا کېدو سره، د طالبانو په لیکو کې ځینې اختلافات رامنځته شول او د طالبانو د نوي مشر مخالفې ډلې د ملا محمد عمر د مرګ د پټولو په څېر، پر ځینو نورو موضوعاتو هم نیوکې پیل کړې. د طالبانو رژیم د کورنیو چارو وزیر ملا عبدالرزاق، د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ملا عبدالجلیل، والي ملا محمد حسن رحماني او ملا محمد رسول، د طالبانو د نوي مشر په توګه د ملا اختر محمد منصور له ټاکلو سره مخالف وو. د دې ترڅنګ، د ملا محمد عمر کورنۍ هم، چې په سر کې يې ورور ملا عبدالمنان او زوی ملا محمد یعقوب دي، تراوسه د طالبانو له نوي مشر سره بیعت نه دی کړی.

د همدغو اختلافاتو په لړ کې د قطر دفتر مشر طیب آغا هم له دې کبله استعفا ورکړه، چې ولې د ملا محمد عمر مړینه له دوه څخه پټه ساتل شوې وه او ولې نوی زعیم له هېواده بهر په پاکستان کې وټاکل شو.

دغو اختلافاتو ته په کتو سره د سولې د پروسې په تړاو هم نوې اندېښنې رازیږېدلې دي؛ ځکه اوس چې طالبان هم د وېشل کېدو له ګواښ سره مخ دي، دا اندېښنه ځواکمنه دهدچې د سولې خبرې به له چا سره کېږي. د طالبانو له دغو اختلافونو سره سره، ملا اختر محمد منصور د طالبانو د ډېری نظامي قوماندانانو او والیانو ملاتړ خپل کړی؛ ځکه دی له تېرو پنځو کلونو راهیسې د طالبانو له نظامي قوماندانو سره په مستقیمه اړیکه کې و او د بل هر چا په پرتله يې له هغوی سره ښې اړیکې درلودې. له بلې خوا د حقاني ډلې مشر سراج الدین حقاني هم د ده مرستیال وټاکل شو او په دې توګه د طالبانو زیاته نظامي برخه ورپورې وتړل شوه.

د القاعده ډلې مشر ایمن الظواهري هم د اګست په ۱۳مه د یوې وېډیو په خپرولو سره له ملا اختر محمد منصور سره بیعت وکړ او هغه يې "امیر المؤمنین" وباله. د القاعدې ډلې د مشر بیعت د ملا منصور پر وړاندې شته مخالفتونه له پوښتنې سره مخ کړل. داسې برېښي چې ملا منصور به د ملا محمد عمر له کورنۍ سره هم خپل اختلافات د علماوو د یوې ډلې له لارې حل کړي او په دې توګه به د طالبانو خپلمنځي اختلافات ورو ورو کم شي او د جګړې په ډګر به ډېره اغېزه ونه ښندي.

## په کابل کې مرګونې چاودنې

تېره اوونۍ په کابل کې څو خونړيو چاودنو د پاکستان په تړاو د افغانستان بهرنی سیاست اغېزمن کړ. د اګست په ۷مه نېټه په کابل کې په ۲۴ ساعتونو کې دننه درې چاودنې وشوې، چې لومړۍ يې په شاه شهيد سيمه کې، دويمه په قصبه کې او درېيمه د پوليسو پر اکاډمۍ وشوه. طالبانو د وروستيو دوو مسؤوليت ومانه خو په لومړۍ چاودنه کې يې، چې يو زيات شمېر ملکي وګړي پکې ووژل شول او درانه زيانونه يې واړول، لاس لرل رد کړل. د اګست په ۱۰مه هم د کابل په هوايي ډګر کې چاودنه وشوه، چې مسؤوليت يې طالبانو په غاړه واخيست.

دا چې د دغو پرله پسې چاودنو تر شا څه موخې دي، په لاندې ټکو کې ورته اشاره کوو:

**لومړی:** ملا اختر محمد منصور چې د اسلام‌آباد د مرې په خبرو اترو کې يې رول جوت و. شايد ځينې خلک ورسره له همدې کبله مخالفتونه ولري، چې ولې يې د مرې خبرو اترو ته شين څراخ ورکړ؟ ځکه خو يې د د طالبانو د امير په توګه له اعلانېدو وروسته په خپل لومړني غږيز پيغام کې هم د سولې خبرې اترې د «دښمنانو پروپاګند» وباله او اوس په کابل کې له دغو چاودنو سره هڅه کوي، چې د خپلو ځينو مخالفينو ملاتړ بېرته ترلاسه کړي.

**دويم:** د ملا محمد عمر له مړينې وروسته نړيوالو مطبوعاتو او افغان حکومت ډېرې داسې ادعاګانې وکړې، چې نور نو د طالبانو په تحريک کې ژور اختلافات راغلي او ورو ورو کمزوري کېږي. اوس طالبان په دا ډول بريدونو سره افغان حکومت او نړيوالو ته خپل زور ښيي.

**دريم:** طبيعي ده، چې طالب جنګياليو به د ملا محمد عمر په مړينه او د روانو اختلافاتو له کبله يو څه مورال بايللی وي، نو ځکه طالبان د وروستيو بريدونو پرمټ د طالب وسله‌والو مورال لوړول غواړي.

**څلورم:** که څه هم په پيل کې طالبانو له دې کبله په مرې کې د سولې په خبرو کې ګډون وکړ، چې خبره به مطبوعاتو ته نه وځي خو کله چې خبره مطبوعاتي شوه او د هېواد، سيمې او نړۍ په مطبوعاتو کې په پراخ ډول خپره شوه؛ نو تر ډېره دا فکر څواکمن شو چې که پاکستان وغواړي نو طالبان خبرو اترو ته چمتو کولای شي. له همدې امله دوی د دغه فکر د تضعيف لپاره، په غبرګون کې خپل عمليات توند کړل.

## د ملي وحدت حکومت بدلېدونکی سیاست

د کابل پرله پسې چاودنو نه یوازې دا چې د پاکستان په تړاو د اشرف غني خارجي سیاست بدل کړ، بلکې د «تروریزم» په تړاو یې د کابل تګلاره هم اغېزمنه کړه.

په کابل کې پرله پسې چاودنې، د مري د سولې پروسې دویم پړاو ځنډېدل او په هېواد کې د اشرف غني د پاکستان-محوره تګلارې پر ضد ډېریدونکې نیوکې د دې لامل شوې، چې د پاکستان په تړاو د اشرف غني خارجي سیاست بدل کړي.

اشرف غني په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د پاکستان پرخلاف تونده لهجه وکاروله او ویې ویل «لا هم په پاکستان کې غونډې کېږي او له هغه ځایه په افغانستان کې د جنګ پر دوام ټینګار کېږي. دا ثابته شوه چې په پاکستان کې لا هم د تروریزم خوندي ځایونه شته»... «په پاکستان کې د تروریستانو روزنیز مرکزونه فعالیت کوي»...«موږ د سولې امید درلود خو د پاکستان په قلمرو کې زموږ پرخلاف د جنګ اعلان کېږي، دا په حقیقت کې له یوه ګاونډي ملت او هېواد سره ښکاره دښمني ده.»

د دې ترڅنګ د ملي وحدت حکومت اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله هم پر پاکستان نیوکې وکړې او ویې ویل، چې باید پر خپلې پاکستان-محوره تګلارې بیاکتنه وکړو. په بل اړخ کې احمد ضیا مسعود، چې د ولسمشر ځانګړی استازی دی، هم وویل، چې پاکستان د سولې پروسې تر نامه لاندې افغانستان غولوي.

که څه هم د افغان حکومت دغه سیاست بیا هم په بشپړه توګه بدلون نه دی موندلی؛ خو راروانې دوه اونۍ به د کابل-اسلام‌آباد د اړیکو مسیر وټاکي. په همدې موخه اشرف غني د پنجشنبې په ورځ د اګست په ۱۳مه د جګپوړو چارواکو پلاوی اسلام‌اباد ته ولېږه او همدا سفر به ښایي د دواړو هېوادونو د اړیکو د ښه پاتې کېدلو په اړه وروستۍ هڅه وي.

د پاکستان پرخلاف د افغان چارواکو تاوده غبرګون په هېواد کې دننه د خلکو ملاتړ خپل کړ. له دې وړاندې پخواني ولسمشر حامد کرزي او ډلې یې په مسلسله توګه پر اشرف غني دا نیوکې کولې، چې باید له پاکستان سره په اړیکو کې په اوسني ډول مخته ولاړ نه شي. د حامد کرزي له دورې وروسته دا لومړی ځل دی، چې حکومت دغه ډول دریځ نیسي.

## د سولې پروسې تت راتلونکی

ولسمشر غني غوښتل چې د چین او پاکستان له لارې طالبان د خبرو اترو مېز ته کېنوي او د سولې په تړاو د ده تګلاره همدا وه. له همدې کبله ده پاکستان ته ډېر امتیازات ورکړل خو په بل اړخ کې د ده دا تګلاره د هېواد دننه تر ډېرو نیوکو لاندې ونیول شوه او ترځنګ یې د مرې د لومړني پړاو خبرو اترو پرته نوره کومه څرګنده ګټه هم ونه کړه. بلکې دغې تګلارې افغان طالبان نور هم د افغان حکومت پرخلاف وپارول. ځکه نو طالبان اوس دوې جګړې پرمخ کوي: لومړی، خپله پخوانی جګړه مخته بیایي او دویمه، ځان د پاکستان له اغېزو څخه پاک ثابتولو لپاره!

که چېرې په راروانو دوو اونیو کې افغان لوری د سولې په تړاو له پاکستانه عملي ډاډ ترلاسه نه کړي، نو د سولې په تړاو به د افغان حکومت دغه تګلاره نوره هم له بندې دروازې سره مخ شي. او له دې وروسته به د سولې پروسه له یوه تت راتلونکي سره مخ شي، خو بیا هم، کېدای شي، د سولې پروسې په تړاو له لاندې ګامونو څخه یو ګام پورته کړای شي:

**لومړی:** د طالبانو د ویشلو په تړاو به رواني هلې ځلې نورې هم ګړندی شي، ترڅو د طالبانو له مخالفتونو ګټه ترلاسه کړي، خو دا به ډېره ګټوره نه وي.

**دویم:** د کرزي پخوانی تګلاره به بیا تعقیب او له پاکستان سره به اړیکې خرابې شي.

**دریم:** کابل به له ډیپلوماسی کار واخلي او پر پاکستان به د پاکستان د ستراتېژیکو ملګرو له خوا فشارونه زیات کړي.

**څلورم:** دا چې کابل به هم د پاکستان دروازه خلاصه پرېږدي او یوازې به ترې د طالبانو د مرکزونو د ویجاړولو په تړاو مرستې وغواړي او په بله خوا به د سولې پروسې په اړه له طالبانو سره نېغې خبرې پیل کړي.

**پنځم:** کابل به بیا هم د پاکستان له خوا ډاډ ترلاسه کړي او د پاکستان په تړاو به د اشرف غني سیاست تر څو میاشتو پورې نور هم دوام ومومي.

# آیا تنش در روابط میان کابل-اسلام‌آباد جدی است؟



بعد از به میان آمدن حکومت وحدت ملی به رهبری اشرف غنی و به خصوص بعد از افشای امضای توافق‌نامۀ همکاری‌های استخباراتی میان افغانستان و پاکستان، به نظر می‌رسید که دور تازه‌ای از روابط گرم میان دو کشور در حال شکل‌گیری است.

تعهد پاکستان به کمک به پروسۀ صلح در افغانستان و به دنبال آن دو دور مذاکرات میان افرادی از طالبان و نمایندگان حکومت افغانستان با وساطت پاکستان در شهر ارومچی کشور چین و مری در نزدیک اسلام‌آباد، به تقویت این امیدواری کمک کرد که دو کشور به مسیر همکاری‌های سازنده گام نهاده اند که غیر قابل برگشت است.

مقامات بلند پایۀ پاکستان از نزدیکی بی‌سابقه در روابط میان دو کشور سخن می‌گفتند و رئیس جمهور غنی را که در جهت نزدیک نمودن روابط میان دو کشور ابتکار جرئتمندانه به خرج داده است، می‌ستودند. در مقابل رئیس جمهور غنی نیز از پاکستان به عنوان متحد جدید در مبارزه علیه تروریزم نام می‌برد، اما در هفته‌های اخیر روابط بار دیگر رو به تیره‌گی نهاده است.

به دنبال حملات اخیر در کابل که در نتیجۀ آن جمع کثیری از افراد نظامی و ملکی جان باختند، افغانستان بار دیگر پاکستان را به حمایت از تروریزم متهم کرد و خواهان برچیده شدن مراکز طالبان در داخل خاک پاکستان شد.

## بازگشت به سیاست‌های کرزی

افشای خبر مرگ ملا محمد عمر رهبر طالبان در شرایطی صورت گرفت که قرار بود دور بعدی مذاکرات صلح میان حکومت افغانستان و طالبان با وساطت پاکستان صورت گیرد به همین دلیل در افغانستان عده‌ای افشای این راز را تلاش پاکستان برای به تعویق انداختن پروسهٔ صلح ارزیابی کردند و آنرا با موج حملات شدید به کابل ربط دادند.

رئیس جمهور غنی در یک کنفرانس مطبوعاتی، این حملات را پیام جنگ از جانب پاکستان خواند و با لهجهٔ تند اسلام‌آباد را به حمایت از تروریزم متهم کرد. وی گفت که «باید مراکز تروریست‌ها در آنسوی دیورند از بین برده شود.» به نظر می‌رسد که اشرف غنی فقط به انتقاد لفظی از طریق رسانه‌ها به پاکستان اکتفا نکرده است. رسانه‌های پاکستانی خبر دادند که اشرف غنی روز دوشنبه در تماس تیلفونی با جان کری وزیر خارجهٔ امریکا، از وجود مراکز طالبان در خاک پاکستان شکایت کرده و پس از آن "جان کربی" سخنگوی وزارت خارجهٔ امریکا گفته است که افغانستان و پاکستان باید برای از بین بردن مراکز تروریست‌ها در دو سوی مرز با هم همکاری مشترک نمایند. به گفتهٔ "کربی" امریکا از پروسهٔ مذاکرات میان حکومت افغانستان و طالبان حمایت می‌کند و امید است که حملات اخیر طالبان به دوام مذاکرات صلح صدمه وارد نیاورد.

این اظهارات سخنگوی وزارت خارجهٔ امریکا جواب به این خواست رئیس جمهور و رئیس اجرائیهٔ افغانستان است که می‌گویند مراکز تجهیز و تمویل تروریست‌ها در آن‌سوی سرحد در خاک پاکستان قرار دارد.

از جانب دیگر در طول یک ماه گذشته حملات موشکی و توپخانه‌یی پاکستان به مناطق مرزی در ولایت کنر از سر گرفته شده است. این حملات یادآور دوران روابط پر تشنج میان دو کشور در دور زمامداری حامدکرزی است.

## سیاست "اعتماد به پاکستان"

آنچه که در این اواخر بیش از همه موجب خشم حکومت افغانستان بر پاکستان گردید، تجمع طالبان در خارج از شهر کویته در ایالت بلوچستان پاکستان بود که با اختر محمد منصور به حیث زعیم جدید طالبان بیعت صورت گرفت. این ماجرا و به دنبال آن حملات سنگین طالبان به کابل، فرصت مناسب در اختیار کسانی قرار داد که همیشه صدای مخالفت با صلح با طالبان را سر می‌دهند.

این تحول موجب تقویت نظر کسانی گردید که از قبل مدعی بودند که نباید به پاکستان اعتماد کرد. داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرائیه نیز طی سخنانی از پاکستان به تندی انتقاد نمود و اسلام‌آباد را متهم به تمویل و تجهیز طالبان علیه حکومت افغانستان نمود.

بعضی از رسانه‌های داخلی و غربی سخنان اخیر رئیس جمهور غنی را نشان از شکست سیاست نزدیکی با پاکستان از جانب وی می‌دانند، اما در مقابل لحن دولتمردان پاکستانی در این زمینه نرم بوده است.

## مذاکرات صلح و روابط با پاکستان

یکی از مسایلی که می‌تواند روابط دو کشور را زیرفشار قرار دهد، امکان به تعویق افتادن مذاکرات صلح است. به میان آمدن دودستگی در صف طالبان که به کشمکش بر قدرت در داخل این تحریک نیز تعبیر می‌شود، از سر گیری مذاکرات را تا آیندۀ نامعلوم به تعویق انداخته است.

در چند ماه گذشته مذاکرات صلح با طالبان با وساطت پاکستان موجب تقویت این نظر در افغانستان گردیده بود که سیاست پاکستان در قبال افغانستان تغییر کرده است، اما تعویق این مذاکرات از یک طرف و ادامۀ جنگ در افغانستان از جانب دیگر، روابط را به سردی بیشتر خواهد کشانید.

در گذشته پاکستان می‌توانست کسانی را که تحت کنترول خود داشت بنام نمایندگان طالبان به مذاکره حاضر سازد و این شرکت کنندگان نیز مدعی بودند که نمایندگان اصلی ملا محمد عمر اند. اما با افشای خبر مرگ ملا محمد عمر، پاکستان این امکان را از دست داده است. اکنون نیاز به شرکت کسانی در این مذاکرات است که بیشترین حمایت جنگجویان طالب را با خود داشته باشند. پاکستان باید افرادی از این دست را به پیوستن به پروسۀ صلح وادار سازد که البته با توجه به روحیۀ طالبان و مشکلاتی که بعد از افشای خبر مرگ رهبر شان با آن مواجه شده اند، این کار آسان نخواهد بود.

راهی که احتمالا پاکستان برای بیرون شدن از این مشکل در پیش خواهد گرفت این خواهد بود که تلاش نماید تا طالبان را حداقل به دو پارچه تقسیم نماید و سپس یک بخش آنان را به پروسۀ صلح بکشاند و به این ترتیب اهمیت دفتر قطر را بعنوان آدرس اصلی برای مذاکرات صلح از میان ببرد. پاکستان قبلا این کار را با افرادی آغاز کرده بود که نمایندگی از جبهات جنگ طالبان نمی‌کردند، اما اکنون که حکومت افغانستان خواهان مذاکره با کسانی است که در صف طالبان توان تصمیم‌گیری در مورد آتش‌بس را داشته باشند، برای پاکستان حاضر کردن چنین افراد به میز مذاکره آسان نیست.

پارچه شدن طالبان به دو گروه نیز به این معنی نیست که آنها بر سر حاضر شدن به میز مذاکره و تفاهم با حکومت افغانستان با هم رقابت خواهند کرد بلکه چنین انشعاب می‌تواند موجب گردد تا هرگروه از بیم اینکه مبادا با پیوستن به پروسهٔ صلح، حمایت جنگجویان را از دست بدهند، شعارهای جنگ طلبانه بدهند و علیه پروسهٔ مذاکره و تفاهم موضع بگیرند.

## نتیجه گیری

علی الرغم اظهارات تند رهبران حکومت وحدت ملی علیه پاکستان، به نظر نمی‌رسد که اشرف غنی بخواهد راه رفته بسوی نزدیکی با پاکستان را بازگردد و کار را از همان جایی از سر بگیرد که حامدکرزی بخصوص از سال 2003 تا پایان دور حکومتش طی کرد که روابط پر تنش با پاکستان بود.

ملاقات سفیر افغانستان در اسلام‌آباد با مولانا سمیع الحق و نیز تماس تیلفونی وزیر خارجهٔ افغانستان با مولانا، تماس‌های آشکار و پنهان اشرف غنی در روزهای گذشته با مقامات پاکستانی و سفر هیئت بلندپایهٔ حکومت افغانستان به پاکستان نشان می‌دهد که سخنان تند رئیس جمهور غنی بیشتر به منظور کاهش احساسات مردم در داخل بوده است و مقامات پاکستانی نیز با درک فشارهایی که بر رئیس جمهور غنی در داخل وجود دارد، ترجیح دادند تا این سخنان را جدی نگیرند و از جواب تند به سخنان وی خودداری ورزند.

مقامات پاکستانی ضمن تقبیح حملات اخیر در کابل، با حکومت و مردم افغانستان ابراز همدردی نمودند. آنها تاکید داشتند که پاکستان خود بزرگترین قربانی تروریزم است.

رسانه‌های پاکستان نیز سخنان رئیس جمهور غنی و داکتر عبدالله را همراه با اظهارات سخنگوی وزارت خارجهٔ پاکستان به نشر سپردند که در آن حملات اخیر به کابل تقبیح شده بود.

از طرف دیگر یک هیئت بلندرتبه از جانب افغانستان به ریاست صلاح الدین ربانی وزیر امورخارجه که در ترکیب آن سرپرست وزارت دفاع و رئیس امینت ملی نیز شامل است برای مذاکره با مقامات پاکستانی عازم اسلام‌آباد شد. هرچند سخنگوی وزارت خارجهٔ افغانستان این سفر را در روابط دو کشور سرنوشت ساز خواند و گفت که جانب افغانی مذاکرات جدی با جانب پاکستان خواهد داشت، اما با توجه به مشکلات حکومت وحدت ملی، نمی‌توان انتظار دست‌آورد زیادی از این سفر داشت.

به صورت کلی می‌توان گفت که علی الرغم تنش‌های اخیر در روابط میان دو کشور، نوعی تفاهم مخفی میان مقامات افغان و پاکستانی موجود است که در نتیجهٔ آن، اظهارات تند مقامات افغان علیه پاکستان از جانب اسلام‌آباد جدی گرفته نمی‌شود.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com